# په سویډن کښې د پښتو ژبې د زده کوونکو

# د پاره د پښتو ژبې د تدریس لسم کتاب

# ۱۰

ترتیب کوونکۍ: عبدالعلي رسول‌زاده په مالمو کې د پښتو ژبې ښوونکۍ
2010-10-14

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ چي نومړي یې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، څکه یې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا ښخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.

د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د پښتو ژبو زده کوونکو د لسم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

دغه کتاب به د ازمویني په توګه د یو څه مودې د پاره تدریس سي او د دغه تدریس په جریان کښي به د ښاغلو ښوونکو، میندو، پلرو او زده کوونکو نظریې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو ښخه راټول سوي دي.
د دې کتاب په پای کي د ټولو مضمونونو لغاتونه داسي مانا سوي دي چي په هغه مضمون کي مانا ورکړي نه داسي چي د قاموس په شان د هغه لغات نوري مترادفي کلمې یې هم راغلي وي. د بلي خوا د یو شمېر لغاتو مانا زده کوونکو ته پخپله یو نوئ لغات وي نو که د ځینو لغاتو مانا د لغاتو سره سل په سل کي سر نه خوري دلیل به یې هم دغه وي. د نورو کتابونو د پاره www.pashto.se پاڼه کي و
ګورئ.

په درنښت

Abdul Ali Rasulzada
Sunnan vägen 271
216 17 Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

# بسم الله الرحمن الرحيم

## د ژوند لاري چاري

يوه ورځ يو صحرايي سړی حضرت محمد (ص) ته راغئ او عرض يې وکړ: " يا رسول الله زه غواړم چي يو څو پوښتني وکړم. رسول الله جواب ورکړ. "وايه څه وايې ؟"

پدغه وخت کښي په دربار کښي حضرت خالد بن وليد هم حاضر وواو دغه حديث مبارک يې وليکه او له ځانه سره يې کښېښود او تر هغه وروسته پدې ډول وليکل سو چي يوه برخه يې دلته راوړو:

پوښتنه :" يا رسول الله غواړم چي شتمن (خان) سم ".
جواب :" قناعت خپل کړه، شتمن به سې " !
پوښتنه :" غواړم چي ستر عالم سم ".
جواب :" تقوی (پرهېزګاري) خپله کړه عالم به سې " !
پوښتنه :" غواړم چي عزتمند سم ".
جواب :" چاته لاس مه غزوه ، عزتمند به سې" !
پوښتنه :" غواړم چي ښه سړی سم ".
جواب :" خلکو ته ګټه رسوه "!
پوښتنه :" غواړم چي عادل سم" .
جواب :" څه چي د ځان د پاره ښه ګڼې، د نورو د پاره يې هم ښه وګڼه" !
پوښتنه :" د رزق پراخي غواړم ".
جواب :" همېشه په اوداسه ګرزه" .

پوښتنه : ” د دعا قبولیت غواړم” .
جواب : ” حرام خوړل پرېږده” .
پوښتنه :” غواړم چي د قیامت په ورځ په نور (رڼا) کي ولاړ یم” .
جواب :” ظلم مه کوه”.
پوښتنه :”غواړم چي الله (ج) زما پرده و ساتي” .
جواب :” د خلکو پرده و ساته”.

تمـــریـــن

۱ ـ پوښتنه : ”د دعا قبولیت غواړم” .
جواب : ”حرام خوړل پرېږده” .
ایا پوهېږئ چي حرام څه ته وایي ؟ یو یا دوه مثاله د حرام او حلال و لیکئ !
۲ ـ پوښتنه :”غواړم چي عادل سم” .
جواب :” څه چي د ځان د پاره ښه ګڼې، د نورو د پاره یې هم ښه وګڼه” !
د پورتنۍ پوښتني د جواب څخه مو څه زده کړه و یې لیکئ !

# کـــیسه

یوه سړي یوه جوړه کالي یوه ګنډونکي ته د ګنډلو د پاره یوړه . د شپې د ګنډونکي دکان غلو وواهه او د سړي کالي یې هم یوړه . ګنډونکی پدې پېښه ډېر خوا شینی شو نو ژر یوه پال کتونکي ته ورغئ او ورته ویې ویل : "که ته ماته دغه غل را وښیې زه به تاته پیسې در کړم" .

پال کتونکي چې پال و کوت نو یې ورته وویل : " ستا غل فلانی نفر دئ ."

ګنډونکی سمدستي راغئ غل یې پیدا کړ او ور ته ویې ویل : "زما د دکان څخه دي شیان غلا کړي دي را یې کړه که نه حکومت ته عرض کوم . "

غل هم و ډارېد او د ګنډونکي شیان یې ور کړه . ګنډونکی راغئ پال کتونکي ته یې څه پیسې ور کړې . کله چې د کالو څښتن راغئ چې د خپلو کالو تپوس وکړي ، ګنډونکي ورته وویل : "ورور څه غواړې ؟"

سړي ور ته وویل : "زما کالي څرنګه سوه ؟"

ګنډونکي وویل : " کالي چې مي جوړ کړه ، خرڅ مي کړه ، نیمي پیسې مي پال کتونکي ته ور کړې او نیمي یې ما په اجوره (مزدوري) کي وګرزولې " .

تمـــریـــن

۱ ـ د پورتنۍ کیسې په باره کي یوه تبصره و لیکئ !

# اختراع او کشف

د اختراع د لغات معنی داده چي که يو څوک يو داسي شی جوړ يا منځ ته راوړي چي پخوا تر دې نه وو موجود لکه اډيسن چي برېښنا (برق) اختراع کړه. ياني پخوا تر دې برق هيڅ موجود نه وو.

کشف هغه ته وايي چي يو څوک يو داسي شی پيدا کړي چي پخوا موجود وو خو څوک نه وه په خبر لکه د امريکا د لويي وچي پيدا کول چي پخوا موجوده وه اما د نورو لويو وچو خلکو ته نه وه ور معلومه.

په نړۍ کي ډېر داسي انسانان پيدا سوي دي چي همېشه يې غوښتي دي چي خلکو ته د خدمت د پاره يا کوم شی اختراع او يا کشف کړي څو انسانان وکړای سي د هغه څخه ګټه واخلي. خو يو شمېر انسانانو بيا د دغي اختراع يا کشف څخه د انسانانو د تباهي د پاره کار اخيستئ دئ. چي يو مثال يې د الفرېډ نوبل چي يو سويډنی مختريع دئ د ډيناميټ اختراع کول دي چي د لارو او سړکونو د جوړول د پاره په کار لويږي. مګر ځينو نورو بيا د دې دغه اختراع د توپو او توپکونو په مرميو کي په کار واچول چي د انسانانو د تباهي د پاره په کار لويږي.

او يا د اډيسون د برق اختراع څومره زموږ او ستاسي انسانانو مشکلات را حل کړي دي حال دا چي يو شمېر نور انسانان بيا په بنديخانو کي د اقرار کولو د پاره د برېښنا جريان د بنديانو لاسو او پښو ته ور کوي چي دا کار پخپله د انسان د عذاب سبب کيږي او داسي نور نور.

**تمـــريـــن**

۱ـ الفرېډ نوبل مختريع وو او که کاشف د هغه د کارو په هکله خپل معلومات و ليکئ!

# بې پته خويونه

يو چې ډېر خوري سوګندونه
اشنايي ور سره مه کړه

بل چې ډېر کوي پورونه
دا بې پته دي خويونه

(خوشحال خان)

# پښتو متلونه

متل يوه لنډه جمله ده چې ډېره لويه مانا لري. اکثره وختونه د يوې پيښې لنډ بيان وي. خلک اکثره وخت په خپلو خبرو کې متلونه، شعرونه او يا لنډۍ کيسې راوړي، هغه هم د دې د پاره چې خبرې يې خوندورې او دلچسپې وي او خلک ښه غوږ ور ته و نيسي.

يو ډول متلونه په ليکلي ډول په کتابو کې ليکل سوي وي او ځيني يې په شفايي ډول د خلکو په منځ کې رواج لري.

دلته به يو شمېر هغه متلونه چې په کتابو کې ليکل سوي وي تاسي ته را وړو:

١- هر چا ته خپل وطن کشمير دئ.
٢- پر ښو تلوار پر بدو تامل.
٣- موړ د وږي په حال څه خبر دئ.
٤- سپور د پلي په حال څه خبر دئ.
٥- نا پوه دونه په بل نه کوي لکه په خپل ځان.
٦- خپل مال ساته او همسايه غل مه نيسه.
٧- هر څوک خپل شی ښاغلی بولي.
٨- تر بې کاري بې ګاري ښه ده.
٩- د لوږې مړ سه د منت خواړه مه خوره.
١٠- پوره ورک دي کړه دوه کوره.

۱۱ـ خدايه لوی مي کړې لويي را مه کړې .
۱۲ـ د اورغوي تڼاکه مرغلره ده .
۱۳ـ د درواغو مزل لنډ دئ .
۱٤ـ درواغ د ناپوه وزر دي .
۱٥ـ درواغجن دي درواغ وايي ، رښتيا ګوی دي قياس کوي .
۱٦ـ يا خپل کور يا خپل ګور .
۱۷ـ مه کوه په چا چي و نه سي په تا .
۱۸ـ لږ خوره هوسا اوسه .
۱۹ـ چي جنګ نه کوي هغه لو ډبره (تيږه) اخلي .

**تمـــريـــن**

۱ـ د مخه تر دې چي دغه متلونه و لولئ ايا ستاسي پخوا متلونه زده وه ؟
که مو زده وه هغه کوم دي ؟
۲ـ د خوشحال خان مقصد د لاندني شعر څخه څه دئ ؟

يو چي ډېر خوري سوګندونه بـل چي ډېــر کــوي پورونه
اشــنايــي ور ســره مــه کړه دا بــې پـــته دي خـــويـــونه

# تــــوکه

یوه سړي یو رستوران درلود. پدې رستوران کې یې ډول ډول خواړه پخول او پر مېلمنو یې خرڅول . د رستوران په دننه کې یې لیکلي وه : هرڅومره خوړه چې و خورئ پیسې یې ستاسي لمسیان او کړوسیان ور کوي.

پدې وخت کې یو مېلمه راغئ نا څاپه یې سترګې پر هغه لیکنه و منښتې. د رستوران د څښتن څخه یې پوښتنه و کړه : " دا رښتیا ده چې پیسې یې زما لمسیان او کړوسیان ور کوي "؟

د رستوران څښتن جواب ور کړ ، " هو "!

مېلمه په ډاډه زړه په خوړلو پیل و کړ ، څومره چې یې خوړلای سوه هغومره ډوډۍ یې و خوړه. کله چې د رستوران څخه واته نو یې دخل چې ته و ویل : " د خدای په امان " .

هغه ورته و ویل : " پیسې راکړه " .

سړي و ویل : " پر هغه تخته دي څه لیکلي دي "؟

څښتن ور ته و ویل : " هغه رښتیا ده . هغه چې ستا نیکه ګانو او ور نیکه ګانو خوړلي دي ته یې لمسی یا کړوسی یې د هغو پیسې راکړه " .

تمــــریـــن

۱ ـ دغه کیسه په انساني ټولنه کې هم پېښیږي. ایا تاسي کولای سئ چې و وایاست څرنګه ؟

# د افغانستان جغرافیه

زموږ ګران هیواد افغانستان چي د اسیا په لویه وچه کي پروت دئ ډېر غرونه لري . داهیواد په وچه کي پروت دئ او بحر ته کومه لاره نه لري . د ۳۰ او ۳۸ عرض البلد درجو تر منځ پروت دئ . مساحت ( دمځکي پراخوالئ ) یې ۶۵۰۰۰۰ مربع کیلومتره دئ . نفوس یې د ۲۴ میلیونو په شاو خوا کي تخمین سوي دئ . دین یې اسلام او دپیسو واحد یې افغانۍ دئ .

د افغانستان شمال ته د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هیوادونه پراته دي . غرب ته یې ایران پروت دئ . جنوب او شرق ته یې پاکستان پروت دئ او په شرق کي یو څو کیلومتره د چین سره سرحد لري .





د افغانستان د سرحدونو اوږدوالئ د ګاونډیو هیوادونو سره په لاندي ډول دئ :

۱ ـ د چین سره ۷۶ کیلو متره
۲ ـ د تاجکستان سره ۱۲۰۶ کیلومتره
۳ ـ د ازبکستان سره ۱۳۷ کیلو متره
٤ ـ د ترکمنستان سره ۷٤٤ کیلو متره
٥ ـ د ایران سره ۹۳۶ کیلو متره
٦ ـ د پاکستان سره ۲٤۳۰ کیلو متره

د افغانستان د ۳٤ ولایتونو نومونه لاندي لیکل سوي دي :

| | | |
|---|---|---|
| کابل | کندهار | هرات |
| بلخ | غزنی | لوګر |
| پکتیا | ننګرهار | کنړ |
| لغمان | کاپیسا | پروان |
| وردک | زابل | هلمند |
| نیمروز | فراه | بادغیس |
| غور | روزګان | جوزجان |
| پکتیکا | سمنګان | کندوز |
| تخار | بدخشان | بغلان |
| بامیان | نورستان | پنجشیر |
| دایکندي | فاریاب | سرپل |
| خوست | | |


چین
بدخشان
تاجکستان
ازبکستان
ترکمنستان
تخار
کندوز
بغلان
بلخ
سمنگان
جوزجان
سرپل
فاریاب
بادغیس
هرات
غور
بامیان
پروان
نورستان
کنر
لغمان
ننگرهار
کابل
لوگر
وردک
غزنی
خوست
پکتیا
پکتیکا
زابل
دایکندی
روزگان
کندهار
هلمند
فراه
نیمروز
۱.پنجشیر
۲.کاپیسا
Ali Rasulzada

## د افغانستان مشهور غرونه :

د هندوکش د غرو سلسله د مملکت د شمال شرق څخه د جنوب غرب خوا ته پرته ده . ددې غرو لوړترینه څوکه چې په پامیر کې پرته ده د( تیر اجمیر ) په نامه یادیږي او ۷۷۵۰ متره لوړوالئ لري .

## د افغانستان نور غرونه لکه :

د بابا غر
سفید کوه
فیروز کوه
سیاه کوه
سپین غر
تور غر



## د افغانستان مشهور رودونه :

### د آمو رود:

دا رود د پامیر د لوړو ځوکو څخه سر چینه اخلي . وروسته تر دې چې د تاجکستان، ازبکستان او افغانستان د هیوادو تر منځ ۱۲۰۰ کیلومتره سرحد تشکیل کي د( ارال ) په جهیل کي تویږي .

### دهلمند رود:

دا رود د منځني افغانستان د غرو څخه سرچینه اخلي وروسته تر دې چي د هلمند په ولایت کي یې په زرو جریبه مځکه اوبه کړې وي د سیستان په جهیل کي تویيږي او تر هغه وروسته د ایران په خاوره کي ډیري مځکي اوبه کوي .

### د مرغاب رود:

په لومړي سر کي دوه کوچني رودونه سره یوځای کیږي او دا رود جوړوي .

### د ارغنداو رود:

دا رود هم دمنځني افغانستان د غرو څخه سرچینه اخلي او د کندهار په ولایت کي په زرو جریبه مځکه اوبه کوي په پای کي د هلمند په رود ګډیږي .

### د کابل رود:

دا رود د پغمان دغرو څخه سرچینه اخلي او د کابل دښار په مابین کي تیریږي . دا رود هغه وخت اوبه لري کله چي واوره ویلي کیږي .

### هري رود:

په لومړي سر کي دوه نور سیندونه سره یوځاي کیږي څو هري رود ځیني جوړ سي .

افغانستان نور کوچني رودونه هم لري لکه : ترنک، ډوری او نور. افغانستان د ځینو دغو رودو څخه د برېښنا د تولیدولو کار اخلي او هلته یې د برېښنا فابریکې جوړي کړي دي .


## د افغانستان اقلیم :

افغانستان د موقعیت له مخي د کوم بحر سره نه دئ منښتی ځکه یې هوا وچه ده مګر دمختلفو منطقو دلوړ او کښته موقعیت په نسبت یې د ګرمی درجه ډېر تفاوت لري . ژمي یې ساړه او تاوده اوړي لري . د شپې او ورځي د تودوخي درجه یې یو د بله زیات توپیر لري .

## د افغانستان پیداوار :



د افغانستان طبعي پیداوار لکه طبعي غاز، تېل، اوسپنه، مس، دډبري سکاره، قیمتي ډبري لکه لاجورد ، یاقوت او نور.



لاجورد چي یوه قیمتي ډبره ده او په زېوراتو کي په کار لویږي په نړۍ کښي ډېر ارزښت لري په بدخشان کي ډېر زیات پیدا کیږي . کیڼي خوا ته د بدخشان د لاجوردو د کان یوه برخه ښودل سوې ده .



افغانستان ډول ډول مېوې لري لکه : انګور، انار، زردالو، شفتالو، توت، خټکي، هندوانې او نور .

غلې یې لکه : غنم، اوربشي، جواري او نور.



د لاسي صنعت په برخه کي افغاني غالۍ جهاني شهرت لري .

د وربښمو صنعت هم د هیواد په ځینو ښارو کي د یادولو وړ دئ لکه : وربښمین ټکران، وربښمین دسمالونه او لونګۍ . وربښم د وربښمو دچینجیانو څخه په لاس راوړي .

پوستینچې او د قرقل پوستکي د پسو د پوستکو څخه جوړوي او بهرنیو هیوادو ته یې د تجارت دپاره لېږي .

په افغانستان کي ډول ډول کورني او وحشي حیوانات پیدا کیږي. کورني حیوانات یې لکه: غوایي، پسونه، وزې، اوښان، اسان، خره او نور.

وحشي حیوانات یې لکه: پړانګ، ایږ، شکونړ، لېوه، ګیدړه، چغال او نور.

په افغانستان کي ډول ډول ګلان پیدا کیږي لکه: پتني، شبوی، انتري، ګل ګلاب، پلاکس، نرګس، سنبل، چنبېلي او داسي نور چي نومونه یې دلته نه ځایږي.

**تمـــریـــن**

۱ ـ افغانستان د دنیا په کومه لویه وچه کي پروت دئ او د کومو هیوادو سره سرحد لري؟
۲ ـ د افغانستان د مشهورو غرو نومونه و لیکئ او و وایاست چي غرونه دې هیواد ته څه ګټه لري؟
۳ ـ د افغانستان د مشهورو رودو نومونه و وایاست او و لیکئ چي دې هیواد ته څه ګټه لري؟
٤ ـ د افغانستان د پیداوارو نومونه و لیکئ!
٥ ـ که افغانستان بحر ته لاره درلودای نو څه ګټه به یې ور ته رسولې وای؟

# د سویډن جغرافیه

سویډن د اروپا په لویه وچه کې یو لوی هیواد دئ. د سویډن د نفوسو شمېر ۹ ملیونه دئ کوم چي د خاوري د لویوالي په نسبت ډېر کم دئ.

۳۰۰۰۰ کاله پخوا د سویډن خاوره تر پنډ یخي لاندي وه. هغه وخت د یخي د وخت په نامه یادیږي. د یخي په وخت کي هوا ډېره سړه وه. واوري ډیري اورېدلې. دا چي هوا ډېره سړه وه، واوري نه ویلي کېدلې او د یخي پنډوالئ به یې نور هم زیاتاوه. په کراره کراره د یخي پنډوالئ دومره زیات سو چي څو کیلو متره ته و رسېدئ. دغه یخي کرار حرکت کاوه، چي د دغه حرکت په نتیجه کي یې ډېري (تیږي) میده کولې او مځکه یې توږله. د هوا د تودېدو په سبب یخی په کراره کراره څه ویلي سو او څه د شمال خوا ته کش سو. یخي د حرکت په نتیجه کي وړې وړې ډېري او خټه د مځکي پر مخ پرېښوده چي هغه نن د کښت او کرلو د پاره ډېره ښه خاوره ده.

## د دریاب پخوانۍ مځکه اوس د کرهڼي ښه خاوره ده

کله چي د مځکي د مخ یخی ویلي سو، بیا هم د سویډن ټوله مځکه نه ښکاره کېده. د مځکي یوه برخه تر اوبو لاندي وه. دا ځکه چي هغه یخی چي پخوا د مځکي پر مخ پروت وو، دومره درونډ وو چي پر مځکي یې فشار راوړئ وو او هغه یې د بحر تر سطحي کښته کړې وه.

کله چي د یخي فشار د مځکي څخه ایسته سو نو د سویډن مځکه د اوبو څخه را وتله. هغه مځکه چي پخوا د دریاب مځکه وه اوس د کښت د پاره ډېره ښه خاوره ده.

د سویډن مځکه تر اوسه لا را پورته کیږي، چي دا کار زیاتره د سویډن په شمال کي کیږي. د سویډن په شمال کي مځکه په هر کال کي یو سانتي متر را پورته کیږي.

لومړني انسانان چي په زرو کلونه د مخه د سویډن خاوري ته راغله ښکاریان او ماهیګیران وه. دا هغه وخت وو چي د سویډن د خاوري څخه یخی ویلي او یا ټول سو.

تمـــــریـــــن

۱ـ سویډن د دنیا په کومه لویه وچه کي پروت دئ او د نفوسو شمېر یې څو دئ؟
۲ـ سویډن چي پخوا تر یخي لاندي وو هغه یخی یې څه سو؟
۳ـ د سویډن مځکه چي د یخي څخه خلاصه سوه لومړني انسانان څوک ور ته راغله؟
٤ـ اوس ولي د سویډن په شمال کي مځکه د کاله یو سانتي متر را پورته کیږي؟

# ایـمان او اسلام

د ایمان د لغات معنی یقین او باور درلودل دي. مګر د عقایدو د علم له مخي دي ته وایي چي سړی په خوله وایي او په زړه کي په هغه باور او یقین ولري. مومن هغه څوک دئ چي هغه څه چي حضرت محمد (ص) د خدای (ج) د طرفه راوړي دي په خوله ووایي او په زړه باور په و لري.

که یو څوک په خوله د اسلام کلمه و وایي او په زړه کي په هغه باور ونه لري نو مومن نه دئ او منافق بلل کیږي.

د اسلام د لغات معنی تسلیمېدل دي. یاني (یعني) چي سړی د خدای تعالی و امر ته تسلیم وي.

# په خوله اقرار او په زړه تصدیق

امنت بالله و ملائکته و کتبه و رسوله والیوم الاخر و لقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعدالموت.

د دي معنی دا ده چي:

ایمان مي راوړئ دئ پر الله پاک او پر ملایکو باندي د الله پاک او پر کتابو باندي د الله پاک او پر رسولانو باندي د الله پاک او پر دې چي د قیامت ورځ سته او پر دي چي خیر او شر ټوله د الله پاک په قدرت او اراده کي دي او پر دې چي پسله مرګه د قیامت په ورځ د خیر او شر د حساب د پاره بیرته راپاڅېده سته.

د مومن مسلمان عقیده باید داسي وي چي دغه امنت بالله په خوله ووایي او په زړه باور په ولري او تصدیق یې کړي.

خدای تعالی هغه ذات دئ چي مځکي ، اسمانونه ، انسانان ، حیوانان ، ټول موجودات او کاینات یې پیدا کړي دي او هیڅ شریک او ساری نه لري.

ملایکي: خدای (ج) ملایکي پیدا کړي دي. ملایکي هیڅ کله د خدای (ج) د امر څخه سر نه غړوي. د ملایکو د جملې څخه دغه څلور ملایکي و لولئ:

## ۱ – حضرت جبرائل علیه السلام:

چي وظیفه یې پیغمبرانو ته د وحو راوړل وه.

## ۲ – حضرت میکائل علیه السلام:

چي وظیفه یې د خدای تعالی و مخلوقاتو ته د روزي رسول ده.

## ۳– حضرت عزرائل علیه السلام:

چي وظیفه یې د خدای تعالی د مخلوقاتو روح قبض کول ده.

## ٤ – حضرت اسرافیل علیه السلام:

چي وظیفه یې د صور شپېلۍ ږغول ده. کله چي د صور شپېلۍ ووهي د ټولو مخلوقاتو روحونه قبض کیږي او کله چي بیا د صور شپېلۍ ووهي ټول مخلوقات بیرته د حساب د پاره راژوندي کیږي.

## اسماني کتابونه:

موږ ایمان لرو پر ټولو هغو کتابو او صحیفو چي د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه د خدای (ج) له طرفه پر پیغمبرانو باندي را نازل سوي دي. اول صحیفي

مبارکي چي شمېر يې سل دئ او بيا کتابونه چي شمېر يې څلور دئ را نازل سوي دي لکه:

١ – لس صحيفې پر ادم عليه السلام را نازلي سوي دي.

٢ – پنځوس صحيفې پر شيث عليه السلام را نازلي سوي دي.

٣ـ دېرش صحيفې پر ادريس عليه السلام را نازلي سوي دي.

٤ـ لس صحيفې پر ابراهيم عليه السلام را نازلي سوي دي.

٥ـ لومړی کتاب زبور دئ چي پر داود عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٦ـ دوهم کتاب تورات دئ چي پر موسی عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٧ـ دريم کتاب انجيل دئ چي پر عيسی عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٨ـ څلرم کتاب فرقان (قران) دئ چي پر محمد عليه السلام را نازل سوئ دئ.

تمــــريــــن

١ـ دغه کيسه په انساني ټولنه کي هم پېښيږي. ايا تاسي کولای سئ چي و واياست څرنګه؟

# اسلام سوله خوښوي

اسلام د ورور ګلوۍ ، عدالت او امن دين دئ. حضرت محمد (ص) د اسلام پيغمبر او رهبر دئ چي د ډېر کوچني والي څخه په ښو اعمالو (کړو) مشهور وو. سوله يې تر جنګ او عداوت خوښه وه. د غريبانو سره يې ښه کول. د دې د پاره چي دا و ښيو چي حضرت محمد (ص) تر جنګ سوله خوښوله نو ښه به دا وي چي د حديبې د سولي قرارداد و لولو.

# د حديبې د سـولـي قرارداد

کله چي حضرت محمد (ص) په مکه معظمه کي د مخالفينو د لاسه ډېر په عذاب سو نو يې د مديني د خلکو (انصارو) په بلنه او غوښتنه و مديني شريفي ته هجرت (کوچ) و کړ.

کله چي په مدينه کي د مسلمانانو شمېر زيات سو نو حضرت محمد (ص) د يو زيات شمېر مسلمانانو سره په ګډه و غوښتل چي د حج د فريضې د ادا کولو د پاره و مکې شريفي ته سفر وکړي. خو د مکې قريشو مکې شريفي ته د ننوتلو اجازه نه ور کول.

د هجرت په شپږم کال چي د حج موسم (وخت ) را نژدې سو محمد (ص) و مسلمانانو ته وويل: "هغه کسان چي غواړي له ما سره حج ته ولاړ سي ځانونه دي چمتو کړي" . ۱۴۰۰ مسلمانانو د حج د پاره تياري و نيوله او د مکې پر لور را رهي سوه. کله چي حديبې (مکې ته نژدې يو ځاى دئ) ته و رسېدل ، هلته و درېدل او يو سړى يې د مکې مشرانو ته ور واستاوه چي دوى ته اجازه ور کړي چي حج وکړي. خو هغو دوى ته د مکې د داخلېدو اجازه ور نه کړه. پدې سبب نو د مسلمانانو او د مکې د قريشو تر منځ څو ورځي بحث او خبري و سوې. دوى په حديبه کي څو ورځي تيري کړې. مسلمانانو به ويل چي د دوى شمېر اوس ډېر زيات دئ کولاى سي چي د مکې د

قريشو سره جنګ وکړي مګر حضرت محمد (ص) دوی ته د جنګ کولو اجازه نه ور کول ځو په پای کي د مسلمانانو او قريشو تر منځ د سولي يو قرارداد لاس ليک سو چي د حديبې د سولي د قرار داد په نامه يادېږي.

په دې قراداد کي دا هم ويل سوي وه چي دواړي خواوي به بيا جنګ نه سره کوي. دا کال دي مسلمانان بېله دې چي حج وکي بيرته مدينې ته ولاړ سي، په راتلونکي کال کي دي راسي او درې ورځي دي په مکه کي پاته سي حج دي وکړي. دا چي د حضرت محمد (ص) سوله تر جنګ او جګړې خوښه وه دا قرارداد يې لاس ليک کړ، که څه هم ډېر مسلمانان پدې قرارداد راضي نه وه ځکه چي شرطونه يې ډېر سخت وه.

| تمـــريـــن |
|---|
| ١ - دغه کيسه په انساني ټولنه کي هم پېښيږي. ايا تاسي کولای سئ چي و واياست څرنګه؟ |

# د تاریخ مبدا

د مخه تر دې چې په تاریخ پیل و کړو ښه به دا وي چې د تاریخ د شمېرلو ترتیب دلته زده کړو ځکه چې په دغه لیکنه کې مختلفې نېټې په کار وړلې سوې دي.

کله چې کوم څه پېښیږي نو خلک يې لیکي او یا يې په یاد کې نیسي چې څه وخت دا کار وسو. دغه وخت ثوک د تاریخ او ثوک د نېټې په نوم یادوي چې په عربي ژبه کې ورته سنه (کال) هم وايي.

انسانان په نړۍ کې دغه نېټه په مختلفو ډولونو سره لیکي. زه غواړم چې د هغو د جملې څخه د دا لاندې ۲ ډولونو په برخه کې تاسې ته څه معلومات درکړم.

۱ ـ هجري (سنه) کال
۲ ـ میلادي یا عیسوي (سنه) کال

۱ ـ هجري سنه:

کله چې حضرت محمد (ص) په مکه شریفه کې د خپلې پیغمبرۍ اعلان وکړ نو یو شمېر خلکو دی په پیغمبرۍ و مانه. دغه ډله چې حضرت د محمد (ص) پیغمبري يې و منله د مسلمانانو په نامه یاد سول. خو یو شمېر خلکو د ده په مخ کې دریز وکړ. تر دې ورسته به همېشه د مکې خلکو حضرت محمد (ص) او مسلمانانو ته ازار ور کاوه. پدغه وخت کې د مدینې مسلمانانو حضرت محمد (ص) او د ده تر ثنګ نورو مسلمانانو ته بلنه ور کړه چې مکه پرېږدي او مدینې منورې ته چې نیژدې ۶۰۰ کیلو متره د مکې و شمال ته پرته ده کوچ ور وکړي. د حضرت محمد (ص) چې تر جنګ سوله خوښه وه نو يې د مدینې د خلکو بلنه ومنله او د مکې څخه يې مدینې ته هجرت (کوچ) و کړ. د دغه وخته څخه هجري سنه یا کال را پیل کیږي چې دا پر ۲ ډوله دئ لکه هجري قمري (سپوږمیز) او هجري شمسي (لمریز).

### الف ـ هجري قمري (سپوږمیزه) سنه (کال):

دا سنه د سپوږمۍ د ګرځېدو څخه د مځکي پر شا و خوا شمېرل کيږي. سپوږمۍ تر ٤ اوونيو په څه زيات وخت کي د مځکي پر شا و خوا راګرځي چي دغي يوې دورې ته يې يوه هجري سپوږميزه مياشت ويل کيږي. زموږ خلک دغه مياشتي د خدايي مياشتو په نامه هم بولي. سپوږميزي مياشتي ځيني ٢٩ او ځيني ٣٠ ورځي لري او سپوږميز کال ٣٥٤ ورځي لري د دې کبله نو روژه، اخترونه او نوري ورځي د کال په مختلفو فصلونو کي راځي. د دې سنې په اساس د هجرت څخه تر نن پوري چي د ٢٠٠٧ عيسوي کال د مارچ د مياشتي لومړۍ نېټه ده ١٤٢٧ کلونه تېر سوي دي.

**تمـــريـــن**

١ ـ ولي په ځينو هيوادو کي ٢٠١٠ او په ځينو هيوادو کي ١٣٨٩ او په ځينو نورو کي بيا کلونه په بل ډول شمېرل کيږي؟

٢ ـ د هجري شمسي او ميلادي يا عيسوي سنو تر منځ څه فرق دئ ؟

٣ ـ د هجري قوري او هجري شمسي سنو تر منځ څه فرق دئ؟

٤ ـ

# د افغانستان تـاريخ

افغانستان د اسيا د لويي وچي په زړه كي يو لرغونی هيواد دئ. دا هيواد د تاريخ په اوږدو كي د اجتماعي ، سياسي ، نظامي او اقتصادي ارزښ له نظره ډېر مهم موقعيت درلودلئ دئ. سربېره پر دې د دې مځكې د لومړنيو اوسېدونكو د تاريخ په هكله دقيق معلومات تر لاسه نه دي راغلي. مګر د تاريخ او لرغونپوهني پوهان د هغه سامانونو د څېړنو او تحليلونو له مخي چي د غزني د ناور په منطقه كي د كيندنو په نتيجه كي لاس ته راغلي دي داسي ښكاره كوي چي لږ تر لږه د ۲۰۰ څخه تر ۱۵۰ زره كاله پخوا د ننني افغانستان په خاوره كي داسي انسانانو ژوند كړئ دئ كوم چي په ښكار بوخت وه.




په سمنګان كي د قره كمر او هزارسم د غارونو د كيندنو څخه داسي سامان او الات لاس ته راغلي دي چي د ډبري او د حيواناتو د هډوكو څخه جوړ سوي دي. دا سامان الات ښكاره كوي چي پدې مځكه كي د ۱۰۰ څخه تر ۷۰ زره كاله د مخه انسانانو ژوند كړئ دئ.

لرغون پېژندونكي په دې باور لري چي پدې مځكه كي تر ۲۰۰ زره كاله مخكي له نن څخه خلكو ژوند پيل كړئ دئ او تر نن ورځي پوري يې د تكامل مختلفي مرحلې تيري كړي دي خو دلته يې موږ په ډېر لنډ ډول د اريايانو د زماني څخه بيا تر نن ورځي پوري لولو.

### تمـــريـــن


۱ ـ د نړۍ خلکو ته د څه په خاطر افغانستان دومره ارزش لري؟

۲ ـ څه فکر کوئ چي زموږ په ګران هیواد افغانستان چي کوم سامانونه پیدا سوي دي څو زره کلن زوړ تاریخ لري؟

۳ ـ په سمنګان کي چي کوم سامان الات په لاس راغلي دي څو کلن تاریخ لري؟

# آريــــايـــــان

تقريبا ۲۵۰۰ کاله د مخه تر ميلاد د آمو د رود په شمالي برخه کي د سپين پوستو خلکو يو لوی جمعيت ژوند کاوه. دوی په کښت او کرهڼه بوخت وه ځکه يې ځانونه اصيل او نجيب بلله. دې خلکو کوچي ژوند درلود. دوی خپل د اوسېدو مځکه د اريانا وېجه او هغه ژبه چي دوی خبري په کولي د آريک په نامه بلله او دغه خلک آريايان وه. دا چي د آريايانو شمېر زيات سو نو د آمو د سيند جنوبي برخو او باختر (اوسنی بلخ) ته راغله او د هندوکش د غرو په شمالي او جنوبي لمنو کي استوګن سوه. دغه خلکو د




نفوسو د زياتوالي له کبله د شرق خوا ته هجرت وکړ، د سيند تر رود ور واوښتل او د شمالي هند په پراخو اورشوګانو کي استوګن سوه. اريايانو دوه مدنيتونه منځ ته راوړل چي دلته لاندي به يې و لولئ:

## ويدي مدنيت:

د آريايانو هغه ډله چي د شرق خوا ته مهاجر سوه، د سيند تر رود تېر سوه او د شمالي هند و پراخو مځکو ته يې ځان و رساوه. هلته يې يو نوی مدنيت جوړ کړ چي دا مدنيت يې د ويدي په نامه يادېږي (۱٤۰۰ ق م. ويدي مدنيت څلور کتابونه لري چي د سانسکريټ په ژبه او زياتره په شعر ليکل سوي دي، ريګ‌ويدا يې تر ټولو زوړ کتاب دئ.

هغه ډلي آريايانو چي هند ته کوچ وکړ هلته يې خپله مځکه د آريه ورته يا آريه ورشه په نامه و بلله چي تر اوسه پوري په پښتو کي ورشو د مځکي په مانا په خبرو کي راځي.

## اویستایي مدنیت :

د آریایانو دوهم مدنیت د افغانستان په بخدي (بلخ) او د هندوکش په شمالي برخو کي وو. دا مدنیت په ۱۲۰۰ ق م کي شروع سوئ دئ ، کتاب یې د اویستا په نامه او مدنیت یې د اوستایي مدنیت په نامه یادیږي.

د اوستا څخه داسي معلومیږي چي آریایي قومونو په بخدي (بلخ) کي ډېر ښکلئ مدنیت جوړ کړ او د مالدارۍ ، ښکار کولو ، کوچي توب ، کښت او کروندې پر ځای یې ښاري او مدني ژوند پیل کړ او د استوګني ښکلي ځایونه یې جوړ کړل.

پدې دوره کي د لومړي ځل د پاره په بلخ کي د پاچاهۍ سازمان منځ ته راغئ چي (یما) یې لومړنی پاچا وو چي د بلخ ښار یې جوړ کړ. پدې خلکو کي یو معین دین منځ ته راغئ چي ځانته یې مدني او روحي قوانین او لارښوودني درلودې.

د دې دین اساس ایښودونکئ زردشت نومېدئ. زردشت د (یوه) خدای وجود ته عقیده درلوده او خلک یې د نورو خدایانو د پرستش څخه د یوه خدای عبادت ته را و بلل او د حیواناتو قرباني کول او د سوما د بوټي د شرابو چیښل چي په آریاۍانو کي یې رواج درلودل د منځه یوړه. زردشت درې ښځي درلودې.

## د تاریخ په اوږدو کي د افغانستان نومونه :

افغانستان د تاریخ په اوږدو کي پدغه اوسني شکل نه وو. خو په هر صورت په دغه لاندي درو نومونو (آریانا ، خراسان او افغانستان) بلل سوئ دئ چي کله د دې خاوري یوه برخه او کله یې بله برخه پکښي شامله وه.

لومړی نوم یې آریانا وو چي د آریایانو د ټاټوبي معنی ور کوي.

د دې تاریخي مځکي دوهم نوم خراسان دئ چي د دریمي میلادي پېړۍ څخه د آریانا پر ځینو مځکو کښېښودل سو او بیا یې په کراره کراره د یفتلیانو د امپراتورۍ

(پنځمه میلادي پېړۍ) ځخه ډېر شهرت پیدا کړ او تر ۱٦م پېړۍ پوري یې دوام درلود .

زموږ د هیواد بل تاریخي نوم افغانستان دئ . دا نوم د ۱٦ میلادي پېړۍ په پای او د ۱۷ میلادي پېړۍ په پیل کي را منځ ته سو او د هوتکیانو د دورې سره یو ځای یې زیات شهرت و موند چي تر اوسه پوري دوام لري .

**تمـــریـــن**

۱ـ آریایان څوک وه ، چیري یې ژوند کاوه او څه وخت؟
۲ ـ آریایان د خپل اصلي ټاټوبي څخه پر کومه خوا ولاړه او هلته یې څه و کړه ؟
۳ـ ویدي مدنیت د چا د خوا منځ ته راغئ او چیري وو؟
٤ ـ د اویستایي مدنیت په هکله خپل معلومات و لیکئ!
٥ـ د تاریخ په اوږدو کي افغانستان کوم کوم نومونه درلودلي دي؟

# هوتکیان

د پښتنو د پخوانیو نیکه ګانو څخه یو د بیټني په نامه یادېدئ ، چي د ده د لور یو زوی د غلجي = غرزي په نوم مشهور وو کوم چي د غلجیو د قوم لوی نیکه دئ .

دغه نوم به د غرزي ( په غره کي پیدا سوئ ) څخه را وتلئ وي . د دې قوم یو سړی چي هوتک نومېدئ د هوتکو د قوم لومړی نیکه دئ کوم چي په کلات کي اوسېدئ او د پټي خزانې د لیکونکي له قوله ده خواږه پښتو شعرونه ویل . د هوتکو د سلطنت د ستر مشر میرویس خان پلار ښالم خان په اتم پلار و نومړي هوتک ته رسیږي پدي ډول :

| | | | |
|---|---|---|---|
| بیټني | غلجی ( غرزی )<br>د بیټني د لور زوی دئ | هوتـــک ..........<br>د غلجي د کورنۍ یو غړی | میرویس خان<br>د هوتکو د قوم یو مشر  |

ښالم د کرم زوی ، هغه د **مند** زوی ، هغه د **عمر** زوی ، هغه د **جلال الدین** زوی ، هغه د **قطب** زوی ، هغه د **اسحاق** زوی ، هغه د **حسین** زوی ، هغه د **ملکیار** زوی او هغه د **هوتک** زوی .

د هوتکو کورنۍ د ترنک او ارغنداو د رودونو په سرچینو کي محلي حکم رانۍ کولې . د دې کورنۍ د حال شرحه چنداني زموږ لاس ته نه ده راغلې خو تر میرویس خان د مخه د غلجیو د قومونو حکمراني او ریاست د جلدک څخه تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي چي د میرویس خان نیکه وو په لاس کي وو . د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي د لور نازو سره واده کړئ وو او د هغې څخه ځلور زامن دنیا ته راغلي وه چي نومونه یې حاجي میرویس خان ، عبدالعزیز ، عبدالقادر او یحیی خان دي . د دوی د جملې څخه میرویس خان د قوم مشري پر غاړه واخیسته او هیواد یې د بېګانوو د لاسه خلاص کړ .

## تمـــريـــن

۱ـ هوتکيان څوک وه او څيري يې ژوند کاوه ؟

۲ـ د هوتکيانو د کورنۍ لوی نيکه څوک وو ؟

۳ـ د حاجي ميرويس خان مور د چا لور وه او نوم يې څه وو ؟

# حاجي میرویس خان نیکه



حاجي میرویس خان

حاجي میرویس خان نیکه د ښالم خان زوی او په قوم هوتک وو . پلار یې د هوتکو مشر وو . د پلار تر مرګ وروسته حاجي میرویس خان د قوم مشر توب پر غاړه واخیست او د هوتکو د مشرانو څخه یو نومیالی مشر وو . میر ویس خان درې وروڼه درلودل چې نومونه یې عبدالعزیز خان، عبدالقادر خان او یحیی خان وه ، خو په دوی کې میرویس خان و کولای سوای چې د قوم مشر توب پر غاړه واخلي .




دمخه تر دې چې میرویس خان د قوم مشر توب په لاس کې واخلي د غلجیو د قوم حکمراني او ریاست د کندهار د جلدک څخه تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي په لاس کې وو .

د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي د لور نازو سره واده کړی وو .

د یوولسمي هجري لمریزي پېړۍ په اخر کې چې زموږ د هیواد پر غربي څنډو باندي زموږ د ګاونډي هیواد ایران (صفوي دولت) له خوا تېری سوئ وو او زموږ د هیواد د کندهار په ښار کې د صفوي دولت د لښکرو مشر (ګورګین) حکمراني کوله او د دې ښار پر خلکو یې ظلمونه کول .

پدې وخت کې زموږ توریالی پښتون قوم چې هیڅکله یې د چا تېری ، د بل تر لاس لاندي والئ او ظلم نه دئ منلئ او د غلیمانو دغه راز لاس اچولو ته یې په بده سترګه کتلي دي ، د ګاونډیانو د دې سلوک څخه ډېر خواشینئ سو ، نو اولس سره را ټول سو او ښاغلئ حاجي میرویس خان یې د قوم د مشر په توګه و ټاکه ۱۷۰۹ م .



صفوي شاه حسين

میرویس خان څلور واره د شا حسین صفوي و دربار ته ولاړ چي هلته د ګورګین له لاسه شکایت و کړي او هم یې غوښتل چي د شاه حسین دربار د نیژدې څخه مطالعه کړي. صفوي پاچا(*صفوي شاه حسین*) میرویس خان ته داسي ویلي وه: " زه هم د ګورګین څخه بېره لرم ، هغه زما خبره هم نه مني".

میرویس خان د هغه درباره څخه مایوس سو نو د هغه ځایه حج ته ولاړ. هلته یې د عربو د عالمانو څخه د صفوي دولت پر ضد د جهاد فتوا واخیسته او هیواد ته راغئ.

په کوکران کي یې یوه لویه ملي جرګه جوړه کړه او په هغه کي یې د اصفهان د دربار حال او د عربي عالمانو د فتوا په هکله معلومات ور کړ او هم یې د خلکو څخه د ملي یو والي غوښتنه وکړه. هغوی و منله چي د ده سره د هیواد په ازادي کي د ویني تر اخري ځاځکي پوري ولاړ دي. هغه وو چي میرویس خان د قوم په مرسته په کندهار کي ګورګین له منځه یووړ د ذیقعدې ۲۹ ( ۱۱۱۹ ) هـ ق او ملت یې د هغه له جنجاله خلاص کړ.

حاجي میرویس خان خپل ټول ژوند د ملت د پت په ساتلواو لوړتیا کي تېر کړ. د هیواد په چارو کي به یې هر وخت جرګې جوړولې او هیڅ کار به یې د ملت بې مشورې نه کاوه. حاجي میرویس خان نیکه چي کله قوم په ډېره مېړانه د پردو د لاسه و ژغوره و غوښتل چي د هیواد چاري کوم بل مشر ته و سپاري. مګر قوم دا قبوله نه کړه او و یې غوښتل چي میرویس نیکه د هیواد د پاچا په توګه و ټاکي.



خو میرویس نیکه ونه غوښتله چي د پاچا په توګه کار ته دوام ور کړي نو هغه وو چي د قوم د مشر په توګه یې د قوم خدمت ته دوام ور کړ. میرویس خان د ذیحجې پر ۲۸ د ( ۱۱۲۸ هـ ق ـ ۱۷۱۵ م ) د دې جهانه ولاړ او د کندهار په کوکران کي ښخ سو.

د میرویس خان تر مرګ وروسته د ده مشر ورور عبدالعزیز خان د ده پر ځای کښېنوست. دا سړی د خپل مشر ورور په شان د لوړ همت څښتن نه وو. کله چي یې اقتدار پیدا کړ نو سمدستي یې لویه جرګه راټوله کړه او د هغو څخه یې د صفوي دولت د اطاعت غوښتنه وکړه. ملي جرګې دغه دروند بار قبول نه کړ. مګر عبدالعزیز خان بیا هم صفوي دولت ته د اطاعت پیشنهاد و کړ چي په هغه کي یې درې شرطونه لیکلي وه:

۱ـ هغه ججه (باج او خراج) چي د ګورګین په وخت کي د افغانانو څخه اخیستل کېده هغه دي معاف سي.
۲ـ د صفوي لښکرو نماینده دي کندهار ته نه راځي.
۳ـ پاچاهي دي د عبدالعزیز په کورنۍ کي دوام و لري.

کله چي افغانان د ده د دې ناوړه کار څخه خبر سول نو څلوېښت زره نفره د میرویس خان د مشر زوی محمود سره یو ځای سول او عبدالعزیز یې له منځه یووړ ۱۱۲۹ هـ ق یا ۱۷۱۶م او شاه محمود یې د پاچاهۍ پر تخت کښېناوه.

**تمـــریـــن**

۱ـ حاجي میرویس خان څو ورونه درلودل او نومونه یې څه وه؟
۲ـ د مخه تر دې چي حاجي میرویس خان د قوم مشر سي د قوم مشرتوب د چا پر غاړه او هغه چیري وو؟
۳ـ د یوولسمي هجري پېړۍ په اخر کي زموږ پر هیواد چا تېری کړئ وو او هغه څوک وه؟
٤ـ حاجي میرویس خان څه غوښته چي څو ځلي د صفوي شاه حسین دربار ته ولاړ؟
٥ـ حاجي میرویس خان ولي حج ته ولاړ او هلته یې څه و کړه؟
٦ـ حاجي میرویس خان د چا سره جګړه و کړه؟
۷ـ کله چي د حاجي میرویس خان تر مرګ وروسته د ده ورور عبدالعزیز خان پاچا سو څه یې و کړه؟
۸ـ ولي خلکو عبدالعزیز خان مړ کړ او پر ځای یې د حاجي میرویس خان زوی محمود پاچا کړ؟

# نادر افشار

۱۱۵۰ څخه تر ۱۱٦۰ هـ ق



نادر افشار

نادر افشار د امام قلي زوی وو. پلار يې پوستينونه ګنډل. کله چي نادر افشار په اصفهان کي د شاه اشرف پاچاهي ړنګه کړه نو يې مخ پر کندهار را و نيوئ.

کله چي د نادر افشار لښکر کندهار ته را و رسېدل، په کندهار کي شاه حسين مقاومت و کړ. نادر افشار شاه حسين محاصره کړ. د محاصرې په وخت کي يې په کندهار کي د نادر اباد په نامه د يوه نوي ښار د ابادولو بنا کښېښوده. د کندهار پخوانی ښار يې و نړاوه او په خپل نامه يې سکه و وهله. هغه وو چي پسله ۱۱ مياشتو محاصرې څخه شاه حسين تسليم سو. نادر افشار شاه حسين او د ده کورنۍ مازندران ته و لېږل څو شپږ مياشتي وروسته يې شاه حسين په زهرو مړ کړ.

نادر افشار د ابدالي زمان خان زامن (ذوالفقار خان او احمد خان چي بيا احمد شاه بابا سو) چي هوتکي شاه حسين بنديان کړي وه د بنده را خلاص کړه او په مازندران کي يې ځای ور کړ ۱۱۵۱هـ ق.

نادر افشار د پښتنو عسکرو ته په خپلو قواوو کي ځای ور کړ او په پښتنو يې باور او اعتماد و کړ.

کله چي نادر افشار په افغانستان کي ډېر ځايونه و نيول نو يې پر هندوستان حمله و کړه. دهلی يې و نيوئ تر ډېر چور او چپاول وروسته يې د هغه ځايه څخه ۸۷ نيم ميليونه انګليسي پونډه، جواهرات او د کوه نور لوی الماس د ځان سره راوړل.

د نادر افشار خوی تر ډېرو فتوحاتو وروسته تغير وکړ او د خپلو نيژدې او شاو خوا خلکو په وژلو يې شروع و کړه، څو هغه وو چي په ۱۱٦۰ هـ ق کال کي د خپلو نيژدې خلکو له خوا ووژل سو.

**تمـــريـــن**

۱ ـ نادر افشار د کومه ځایه څخه پر افغانستان حملې کولې ، څرنګه او ولې ؟
۲ ـ نادر افشار په افغانستان کې د کوم پاچا تخت ور و نړاوه او څرنګه ؟
۳ ـ کله چې نادر افشار په افغانستان کې قدرت په لاس کې و نیو بیا یې نو کوم کوم کارونه و کړه ؟
٤ ـ نادر افشار ولې د خپلو نژدې خلکو له خوا و وژل سو او د ده تر وژلو وروسته څه پېښه سوه ؟

# ســـــــدوزيان

۱۱٦۰ ـ ۱۲۵۸ هـ ق

د سدوزو د کورنۍ لومړنی پيل د ابدالي کورنۍ څخه دئ کوم چي دغه ابدالي کورنۍ د افغانستان او هند د تاريخ يوه مشهوره کورنۍ ده. د دې کورنۍ اصلي ريښه په ٤۰۰ م کي د (اپتل) يا هيتالي سره چي يوه سپين پوستي اريايي قبيله ده را شروع کيږي. دې کورنۍ په تخارستان او باختر کي يو لوی دولت جوړ کړ.

اروپايان دغه هيتاليان د سپينو هونانو په نامه بولي. دغه قوم تر اسلام د مخه د اسيا په زړه کي حکمراني کوله. داسي معلوميږي چي دا کورنۍ د افغانستان خاوري ته تر راتلو وروسته د دې خاوري د پښتانو خلکو (پښتنو) سره ګډه سوې ده.

د اسلامي دورې په تاريخ کي لومړنی مشهور سړی (ابدال = اودل) د ترين زوی د شرخبون زوی د سړه بڼ زوی دئ کوم چي د پښتنو مشهور نيکه دئ. د دوی نوم د پښتو په پخوانيو ادبياتو کي اودل ـ اودلي = ابدال راغلئ دئ کوم چي د ۱۰٤۸ م په شا و خوا کي يې د پښتنو کورنۍ پر ځان را ټولي کړې وې.

څه موده وروسته د دې کورنۍ يو غړی چي ملک سدو نوميدئ او د سدوزيانو د کورنۍ لوی نيکه چي په ۱۵۵۷ م کال کي پيدا سوئ وو په يوه جرګه کي د کندهار د ريس او مشر په توګه و ټاکل سو. ده خپل مرکز په ارغسان (ارغستان) کي جوړ کړ. ملک سدو د بارکزيو د ريس محمد په زمانه کي چي د محمد زيانو د کورنۍ لومړنی نيکه وو ژوند کاوه. د دې کورنۍ لومړی پاچا احمد شاه بابا دئ.

تمـــريـــن

۱ ـ ۱ ـ ابداليان څوک وه او په کومو نومو ياد سوي دي؟
۲ ـ ملک سدو څوک وو؟
۳ ـ د سدوزو د کورنۍ لومړی پاچا څوک وو؟

# احمد شاه بابا

(۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶) هـ ق (۱۷٤۷ ـ ۱۷۷۳) م



احمد شاه با با

احمد شاه بابا په اصل سدوزی او د پلار نوم يې محمد زمان خان وو . احمد شاه بابا په ۱۱۳٥ هـ ق ۱۷۲۲ م کال کي زېږېدلئ دئ . پلار يې د هرات مشر وو . د مور نوم يې زرغونه انا وو چي په خټه الوکوزۍ وه . مور يې په پښتونولي د خپل زوی روزنه وکړه او ننګيالی يې لوی کړ .

د نادر افشار د وژل کېدو په وخت کي احمد شاه بابا د نادر افشار په عسکرو کي افسر وو . احمد شاه بابا د نادر افشار کورنۍ د شورشيانو د حملو څخه و ساتله . هغه وو چي د نادر افشار کورنۍ هغه لوی او مشهور الماس چي نادر افشار د هندوستان څخه راوړئ وو ، احمد شاه بابا ته ور و باخښه . احمد شاه بابا پدغه وخت کي ۲٥ کلن وو .

پدغه وخت کي په افغانستان کي يو سم منظم حکومت وجود نه در لود . پښتنو يوه ټينګ او زورور حکومت ته اړتيا در لوده ځو هغه وو چي د کندهار د شير سرخ بابا په زيارت کي دپښتنو مشران سره را ټول سوه او يوه لويه جرګه يې جوړه کړه۱۱٦۰ هجري د ۱۷٤۷ م کال د اوکتوبر مياشت .

پدي جرګه کي د کندهار د ډيرو قومونو مشران د احمد شاه په ګډون سره را ټول سوي وه لکه : د غلجو مشر ( نور محمد خان )، د پوپلزو مشر ( محبت خان)، د سهاکزو ( اسحاق زو ) مشر ( موسی خان)، د نورزو مشر ( نصرالله خان)، د بارکزو مشر ( حاجي جمال ) .

جرګي نهه ورځي وخت و نيوئ ببله دي چي کومه نتيجه معلومه سي . په نهمه ورځ د مجلس ګډون کوونکو صابر شاه ملنګ ته چي اصلا د کابل وو او خلکو د يوه روحاني په سترګه ور ته کتل اختيار ور کړ چي دی دي کوم ځوک انتخاب کړي . دی هم را ولاړ سو د احمد شاه بابا په لنګوټه کي يې د غنمو يو وږی ور جګ کړ او احمد شاه بابا يې په پاچاهي و ټاکئ .


دا چي احمد شاه بابا يو ډېر مهربانه سړی وو د خپل زوی او يوه غريب سړي فرق يې نه کاوه نو ډېر زيات د خلکو د باور او اعتماد وړ وګرزېدئ.

احمد شاه بابا په افغانستان کي اداري، لښکري، مالي او مدني تشکيلات جوړ کړه او وزيران يې مقرر کړه. د کندهار او تاشقرغان ښارونه يې جوړ کړل. پر هند يې حملې وکړې او ډېرځايونه يې و نيول. د حيدر اباد ښار يې هلته جوړ کړ. د سرو زرو، سپينو زرو او مسو څخه يې سکې جوړي کړې.

د سل زرو په شاو و خوا کي يې عسکر درلودل. کلني عايدات يې د پنجاب، کشمير او سيند څخه د امو تر رود، مشهد او د عربو تر بحيرې پوري ۳۱ ميليونه روپيو ته رسېده. مګر څه چي به يې په جنګ کي غنيمت د ځان سره راوړل پدې کي شمار نه دي.

احمد شاه بابا د پښتو ژبي تکړه شاعر وو، د شعر ديوان يې په زرو بيتونه لري او هم يې په خپل دربار کي د پوهانو او عالمانو ډېر مراعت کاوه.

د خپلي پاچاهۍ په وخت کي يې ډېر جنګي سفرونه و کړل چي د هغو د جملې څخه يې يو د پاني پت سفر دئ چي په هغه کي د احمد شاه بابا لوی بری په برخه سو.



احمد شاه بابا پسله ډيرو جنګي سفرونو څخه ناروغه سو او د کندهار د ښار څخه د توبې (کوږک) غره ته چي ښه هوا لري يوړه سو او هلته پسله څو مياشتو څخه تر ۲۶ کاله پاچاهۍ وروسته په ۱۱۸٦ هـ ق کال کي د رجب د مياشتي پر ۲۰ نېټه د ۵۱ کالو په عمر د (آکلې) د ناروغۍ له امله مړ سو او جنازه يې وزير شاه ولي خان کندهار ته راوړه او په هغه ځای کي چي پخپله يې خوښ کړئ وو ښخ کړ.

احمدشاه بابا اته زامن درلوده.


يادونه: د آکلې ناروغي يوه داسي ناروغي ده چي په بدن کي دانې پيدا کيږي او د هغه په واسطه د بدن نوري غوښي خوړل کيږي.

د احمد شاه بابا تر مرګ وروسته د ده مشر زوی تیمورشاه پاچا سو
.



تیمور شاه

د تیمور شاه تر مرګ وروسته د افغانستان چاري د تیمور شاه اولادي ته ور پاته سوي. دوی په خپلو منځو کي په جنګو او جګړو اخته سوه. د دې جنګو په نتیجه کي د افغانستان هغه لوی نوم او قدرت چي احمد شاه بابا په لاس را وړئ وو د منځه ولاړ.



شـــاه شـجاع

په دغه وخت کي انګرېزانو په دې منطقه کي د مستعمرو د لاسته راوړو کار پیل کړئ او تازه یې افغانستان ته لاس را اوږد کړئ وو. په دغه وخت کي د ابدالي کورنۍ یو پاچا (شاه شجاع) چي د تیمور شاه زوی وو د افغانستان په تاریخ کي یې تر ټولو خرابترین کار و کړ. هغه دا چي د ورونو تر منځ د برخلافیو په سبب یې ځان او هیواد انګرېزانو تسلیم کړ. انګرېزانو دی را وستئ او پاچا یې کړ. دی تش په نامه پاچا وو او په اصل کي قدرت ټوله د انګرېزانو په لاس کي وو. افغانانو چي د بل تر لاس لاندي ژوند هیڅ وخت نه دئ قبول کړئ دی یې و واژه. تر دې وروسته پاچاهي د محمدزو کورنۍ ته و رسېده.

### تمـــریـــن

١ ـ احمد شاه بابا څرنګه پاچا سو؟
٢ ـ کله چي احمد شاه بابا پاچا سو کوم کوم کارونه یې و کړه؟
٣ ـ احمد شاه بابا څرنګه مړ سو؟
۴ ـ د احمد شاه بابا تر مرګ وروسته څوک او څرنګه پاچا سو؟
۵ ـ د احمد شاه بابا په کورنۍ کي چا د افغانستان سره لوی خیانت و کړ؟

# د محمدزو دوره

۱۲۱۶هـ ــ ۱۳۵۷هـ

محمد زي د کندهار د درانو د بارکزي قوم يوه څانګه ده ، چي محمد نيکه د دې کورنۍ موسس دئ چي د ۱۰۰۰هـ ق يا ۱۵۹۱م په شاو خوا کي يې په ارغسان کي چي د کندهار د ښار په جنوب شرقي خوا کي پروت دئ ژوند کاوه او د ملک سدو هم وخته ووکوم چي د ابداليانو د قبيلو حکمران وو. محمد نيکه تر مرګ وروسته په هغه کلي کي ښخ سو.

د دې کورنۍ يو غړی (حاجي جمال) د شير سرخ بابا په جرګه کي کله چي د پاچا د انتخابولو د پاره جوړه سوې وه ګډون درلود د احمد شاه بابا تر پاچا کېدو وروسته د هغه د دربار مشاور سو ، تر مرګ وروسته د کندهار د ذاکر په کلي کي ښخ سو. تر ده وروسته د ده زوی سردار پاينده محمد خان د ارغسان څخه تر هلمند پوري د بارکزيو د قبيلو د ريس په توګه شهرت و موند. او د تېمور شاه په وخت کي په لوړه سترګه ور ته و کتل سوه او هغه ته يې لوړ خدمتونه و کړه.

د محمد زو د کورنۍ لومړی سړی وزير فتح خان وو چي په ۱۲۱۶هـق کال کي د سدوزي شاه محمود د پاچهۍ په وخت کي يې د وزير په توګه دنده پيل کړه. تر ده وروسته د دې کورنۍ لومړی پاچا امير دوست محمد خان دئ.

# د امیر دوست محمد خان پاچاهي

(۱۲۵٤ـ ۱۲۵۵)هـ ق (۱۸۳۸ ـ ۱۸۳۹)م



امیر دوست محمد خان


کله چي د شاه محمود زوی (کامران) وزیر فتح خان ړوند کړ په دا کار د وزیر فتح خان غښتلي ورونه د شاه محمود په مقابل کي و درېدل او په نتیجه کي یې د سدوزو د کورنۍ کمبله ور ټوله کړه. خو پخپله یې پر پاچاهي باندي تر منځ کش مکش جوړ سو څو په پای کي سردار دوست محمد خان د کابل په عیدگاه کي د خپلي پاچاهۍ اعلان و کړ او د ده په نامه خطبه و ویل سوه ۱۲۵٤ هـ ۱۸۳۸م. د امیر دوست محمد خان پدغه دوره کي د ده ورڼو د افغانستان زیات ولایتونه تر خپلو منځو و وېشل. هر یو په خپله منطقه کي د ټول قدرت څښتن وو. کوم مالیات چي به یې راټولول پخپله به یې په کار اچول او مرکزي حکومت ته به یې څه نه 0ورکول.

د هیواد حال ورځ په ورځ خرابېدئ. پدي وخت کي رنجت سنگ (د سکانو مشر) ټول پنجاب تر پېښور پوري نیولئ وو او په پېښور کي هم سردار سلطان محمد خان د امیر دوست محمد خان ورور ډېر کمزورئ وو او دا ښېره وه چي رنجت سنگ پر خیبر حمله وکړي. امیر دوست محمد خان د انگرېزانو څخه د پېښور د بیا اخیستلو د پاره مرسته و غوا۱ښته او په خپله د ٦٠ زرو عسکرو سره پېښور ته ولاړ هلته یې ماته و کړه او بیرته کابل ته راغئ.

امیر دوست محمد خان د رنجت سنگ د ماتولو د پاره د انگرېز، ایران او روس د دولتونو څخه مرسته و غوښتل.

پدغه وخت کي انگرېزانو خپل لومړنی سیاسي او اقتصادي هیئت کابل ته را واستاوه. د روسیې یو هیئت هم د ویکو ویچ په نامه کابل ته راغلئ وو چي د کابل دربار او د کندهار حکمرانان یې د انگرېزانو پر ضد تحریک کول. امیر دوست محمد خان د انگرېز د نمایده سره خبري و کړې او د هغه سره یې و منل چي که انگرېزان امیر ته ۲۰۰۰ توپکان او د سند د رود لوېدیزي مځکي ور کړي نو تل به د انگرېزانو همکار

او دوست وي .


شـــاه شجاع

خو انګرېزانو د هند د ساتني د پاره او د روس د احتمالي مختنه را تګ د مخنيوي د پاره شاه شجاع چي د افغانستان څخه تښتېدلئ وو او په هند کي اوسېدئ په نظر کي نيولئ وو . ځکه نو انګرېزانو د اکتوبر پر لومړۍ نېټه په ۱۸۳۸ م کال کي د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه پيل کړه او د امير دوست محمد خان د له منځه وړلو ته يې ملا و تړله .

شاه شجاع لومړی د اپريل په مياشت کي په کندهار کي او د ۱۸۳۹ م کال په اګست کي په کابل کي تش په نامه د انګرېزانو په لاس پاچا سو او امير دوست محمد خان د زامنو سره بخارا ته ولاړ .

## د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه :

د انګرېز عسکر د شاه شجاع سره يو ځای افغانستان ته را ننوتل . افغانان چي پدي و پوهېدل چي افغانستان انګرېزانو نيولئ دئ نو ملي پاڅون يې و کړاو په غزا يې پيل وکړ . په کابل کي د غازي عبدالله خان اڅکزي اونايب امين الله خان لوګري په مشرۍ د انګرېزانو په مخالفت جهاد پيل سو . د دوی په قومنده د ۱۸٤۱ م کال د نوومبر په دوهمه نېټه عمومي پاڅون وسو . افغانان په تش لاس پر انګرېزانو ورغلل . په دغه اوله ورځ يې د انګرېز نماينده برنس و واژه . د ډيسمبر پر ۲۳ نېټه يې مکناټن و واژه .


مکناټن

شاه شجاع چي د خپل هيواد سره يې خيانت کړئ وو د ۱۸٤۳ م کال د اپريل پر ۳ نېټه و وژل سو . او څرنګه چي د دغه کال په ژمي کي د انګرېزانو عسکر د کابل د لاري څخه جلال اباد ته تلل ټوله د غازيانو له خوا و وژل سوه .


وزير محمد اکبر خان

انګرېزانو پدي جنګ کي ډېر تاوانونه و ليدل ، ۳۰ زره نفره يې و و ژل سوه او ۲۱۰ ميليونه هندۍ روپۍ يې مصرف سوي . په دغه جنګ کي چي د انګرېزانو څوک افغانستان ته راغلي وه ببله يوه نفر ډاکتر

بریدن څخه نور څوک ژوندي پاته نه سول . د شاه شجاه تر وژلو او د انګرېزانو تر ماتولو وروسته خلکو امیر دوست محمد خان راووست او د خپل مجاهد زوی وزیر اکبر خان په مرسته یې د کابل پر تخت کښېناوه .

## د افغان او انګرېز دوهمه جګړه :



امیر شیر علي خان

د ۱۸۷۸ م کال د نوویمبر په میاشت کي انګرېزان د بولان ، تورخم او کورم له لاري د درنې توپخانې او ۳۵۰۰۰ عسکرو سره را مخ ته سوه . امیر شیرعلي خان مزار ته حرکت وکړ څو د روسانو څخه مرسته و غواړي. روسانو مرسته ور سره و نه کړه او امیر په مزار کي مړ سو .


د امیر شیر علي خان تر مرګ وروسته د کابل حالت ډېر خراب وو انګرېزان مخته راتله څو په اخر کي یې سردارانو د ده زوی سردار محمد یعقوب خان پسله ۸ کالو بند څخه د بندیخانې څخه را و ایست او پاچا یې کړ (د ۱۸۷۹ م کال د مارچ څخه تر اکتوبر پوري).


محمد یعقوب خان

امیر محمد یعقوب خان چي یو بې تجربې سړی وو انګرېزانو و نیوئ او ګندمک ته چي د کابل او جلال اباد تر منځ یو ځای دئ بوت او هلته یې د افغانستان په تاریخ کي خرابترینه معاهده په امضا کړه . پدې معاهده کي افغانستان ډېري نوري مځکې له لاسه ورکړې (جمادي الثاني ۱۲۹٦ هـ ق ۲٦ مې ۱۸۷۹ م ). دغه معاهده د ګندمک د معاهدې په نامه یادیږي.


ملالۍ د میوند په جنګ کی

د ګندمک د معاهدې له مخې افغانستان پښین ، کورم او خیبر له لاسه ورکړه او هم د دې قرارداد له مخې د انګرېز نماینده په کابل کي ځای پر ځای سو .



محمد ایوب خان

دا کار د افغان ملت د منلو وړ نه وو ځکه نو مجاهدینو په مېړانه د انگرېز سره جنگ پیل کړ. د انگرېز نماینده (کیوناري) یې د ټولو ملگرو سره د کابل په بالا حصار کې مړ کړ او د بلې خوا د کندهار په میوند کې غازي ایوب خان د امیر شیر علي خان زوی او پښتنې پېغلې ملالۍ د انگرېز و لښکر ته سخته ماته ورکړه ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ م.

انگرېزانو چې د دې وار بیا ماته و خوړه او نه یې سوای کولای چې په افغانستان کې ځان ټینگ کړي نو یې سردار عبدالرحمن د سردار محمد افضل خان زوی د تاشکند څخه راو غوښت او په کابل کې یې پر تخت کښېناوه ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ م.


# امان الله خان

(۱۲۹۷ـ۱۳۰۷) هـ ل (۱۹۱۹ـ۱۹۲۹) م


امیر امان الله خان

امان الله خان د امیر حبیب الله خان زوی وو. دی د پلار تر مرگ وروسته د ۱۹۱۹ م کال د مارچ د میاشتې په لومړۍ نېټه پاچا سو. کله چې امیر حبیب الله خان ووژل سو نو ورور یې سردار نصرالله خان د ځان د پاره په جلال اباد کې پاچاهي اعلان کړه او انگرېزانو ته یې د خپل ورور په شان د ښو روابطو اطمنان ور کړ. د ده پدې کار مشروطیت غوښتونکې چې یوه ډله ترقي غوښتونکې وه ډېر خواشیني سوه هغه وو چې د ده پر ځای یې امان الله خان پاچا کړ.




د کابل عیدگا

مان الله خان د کابل په عیدگاه کې ټول عسکر، مامورین او خلک راغونډ کړل، لومړی یې خلک د پلار د مړینې د پېښې څخه خبر کړه او بیا یې د کابل په عیدگا کې خپله پاچاهي اعلان کړه.



امان‌الله خان پداسي حال کي چي عسکري درشي يې اغوستې وه خلکو ته يې داسي بيانيه ورکړه:

- " اې زما ګران ملته! زه به دغه د عسکری درشي د ځان څخه و نه باسم څو د هيواد مور ته مي د ازادی کالي نه وي ور په تن کړي.
- زه به دغه توره تيکي ته دننه نه کړم څو د خپل ګران ملت د حقوقو تېري کوونکي مي پر ځای نه دي کښېنولي.
- اې زما ګران ملته او سر ښندونکو عسکرو! راوړئ چي خپله اخري هستي د خپل هيواد د ساتني د پاره، راسئ چي خپل د ننګه ډک سرونه مو د خپل هيواد د خلاصون د پاره قربان کړو".

دا يې و ويل او د افغانستان بشپړه ازادي يې اعلان‌کړه. د ده د پاچاهی د پيل سره د ده د پلار او نيکه د انګرېزانو د پلوي سياست پای ته و رسېد او نوموړي د افغانستان پوره خپلواکي اعلان کړه.

د ۱۹۱۹ عيسوي کال د می پر پنځمه نېټه يې د انګريزانو پر پوستو باندي په درو جبهو کي حملې وکړې چي دغه نو د افغان او انګريزانو دريم جنګ دئ.

د جنګ د ډېر شدت په نتيجه کي دواړو خواوو سوله سره وکړه.


امان‌الله خان د خپل نيکه امير عبدالرحمن خان د سياست په خلاف د خپل شمالي ګاونډي (روسيې) دوستی ته لاس واچاوه. په هيواد کي يې ډېر اجتماعي او سياسي اصلاحات پيل کړه چي د يوې خوا د شوروي سره دوستي او د بلي خوا څخه د امان‌الله خان دغه ژر اصلاحات، اجتماعي پر مخ تګونه او د انګرېزانو پروپاګنده سبب سوه چي خلک دده په مخ کي و درېدل او ښورښونه يې وکړه. هغه وو چي د کابل چاري حبيب الله کلکاني ته چي د سقاو د زوی په نامه مشهور او په هند کي بندي وو و رسېدې.

حبيب‌الله پدغه وخت کي تر خپل وخت د مخه له بنده را خلاص سو. او دا چي په هيواد کي د امان‌الله خان په مخ کي د انګريزانو د لاس وهنو په سبب نا ارامي راغله

او امان‌الله نه غوښته چي انسانان دي ووژل سي نو يې دغه څو جملې پر يوه سپينه پاڼه ليکلي وې"د هيواد خير په دې کي دئ چي بايد د کار څخه لاس واخلم، ځکه ټولي ويني تويوني او انقلابونه چي په هيواد کي‌دي زما سره د برخلافۍ په سبب دي".
امان‌الله خان پسله لسو کالو پاچاهۍ څخه د ۱۹۲۹ عيسوي کال د جنوري په مياشت کي د کندهار د لاري د افغانستان څخه ووت، ايټالي ته يې ځان و رساوه او د ژوند تر اخره پوري هلته پاته سو. کله چي وفات سو نو جنازه يې د الوتکي په واسطه افغانستان ته راوړه سوه او هلته ښخ سو.

# محمد ظاهر خان

(۱۳۱۲ـ ۱۳۵۲) هـ ل (۱۹۳۳ـ۱۹۷۳)م



محمد ظاهرخان

اعليحضرت محمد ظاهر شاه د اعليحضرت محمد نادرخان زوی دئ چي په ۱۲۹۳ هـ ل ۱۹۱٤م کال په کابل کي زېږېدلئ دئ. د کابل د حبيبيې او استقلال په لېسو کي يې زده کړي و کړې. بيا د پلار سره فرانسې ته ولاړ او هلته يې په زده کړو پيل و کړ.

په ۱۳۰۹ هـ ل کال کي بيرته د فرانسې څخه هيواد ته راغئ او په عسکري ځانګه کي يې خپلو زده کړو ته دوام ور کړ.



يو ځل يې د دفاع د وزارت د وکيل او بيا يې د پوهني د وزارت د وکيل په توګه کار کړئ دئ.

د پلار تر مړيني وروسته په ۱۳۱۲ هـ ل کال کي پاچا سو او د ۱۳۵۲ هـ ل کال د سرطان تر ۲۵ نېټې پوري د افغانستان پاچا وو.



محمد هاشم خان

څرنګه چي ظاهر خان د پاچهۍ تجربه نه درلوده نو زياتره چاري د ده د تره محمد هاشم خان له خوا چي د ده د حکومت صدر اعظم وو سرته رسېدلې. سردار محمد هاشم خان د ۱۹۳۳م کال څخه تر ۱۹٤٦م پوري صدراعظم وو.

تر ده وروسته يې د ده ورور شاه محمود خان صدراعظم سو ۱۹٤٦ ـ ۱۹٥۳م .

تر دوهم نړيوال جنګ وروسته افغانستان د لويو پروژو په منځ ته راوړو پيل و کړ . د هلمند او ارغندداو د بندونو جوړول د امريکا د متحده ايالاتو د تخنيکي او اقتصادي همکاريو څخه دي .

په ۱۹٥۳م کال کي سردار محمد داود صدراعظم سو . د ده په وخت کي د اقتصادي پر مختيا قرارداد د جرمني ، جاپان او ايټاليې سره امضا سو . دا درې هيوادونه د نړۍ د دوهمي جګړې ملګري وه . دا ځکه چي افغانستان د انګرېزانو سره په دغه وختونو کي ښه دوستي نه درلوده .

د دوهمي نړيوالي جګړې په پيل کي لا محمد هاشم خان د هيواد بې طرفي اعلان کړه چي دا کار د افغانستان په ګټه وو . دغه د بې طرفۍ سياست ظاهر خان تر اخره پوري و ساتئ .

په ۱۹٤۷م کال کي هند د انګرېزانو څخه ازادي واخيستله . د دغي ازادۍ په نتيجه کي هند د خپلي خاوري يوه برخه د لاسه ورکړه . يوه برخه دغه د هند خاوره او يوه برخه چي انګرېزانو پخوا د افغانستان د خاوري څخه ګرزولي وې د يوه نوي هيواد ( پاکستان ) منځ ته راتلو سبب سوه .

کله چي داود خان صدراعظم سو نو يې د پاکستان څخه د افغانستان د هغو خاورو د ازادولو غوښتنه وکړه کوم چي د ډيورنډ د خط په نتيجه کي يې له لاسه ورکړي وې . دا زياتره هغه برخي وې چي پښتانه پکښي اوسېدل او د پښتونستان په نامه يې يادول . دې خبري د افغانستان او پاکستان تر منځ جګړې او مشکلات منځ ته راوستل .

ظاهر خان په ۱۳٤۳هـ ل کال کي د افغانستان نوی اساسي قانون منځ ته راووست . د دغه اساسي قانون له مخي سياسي فعاليتونه په هيواد کي ازاد سوه چي په نتيجه کي يې يو زيات شمېر سياسي ګوندونه منځ ته راغلل . خلکو تر يوې اندازې پوري د خبرو او ليکنو ازادي پيدا کړه . تر دغه وروسته په هيواد کي د فارسي ژبې نوم په دري واوښت .

په ۱۳۵۲ هـ ل کال د سرطان پر ۲٦ نېټه سردار محمد داود د يوې کودتا په نتيجه کې د افغانستان لومړی جمهوريت اعلان کړ. ظاهر خان چې د داود خان د کودتا په وخت کې په ايټاليا کې وو د ۱۳۵۲ کال د اسد پر ۲۱ نېټه يې داود خان ته يو ليک را و لېږه چې په هغه کې يې نوي رژيم ته بيعت ور کړ.

# محمد داود خان

۱۳۵۲ د سرطان ۲٦ څخه د ۱۳۵۷ د ثور تر ۷ پورې


محمد داود خان

داود خان د سردار محمد عزيز خان زوی او د اعليحضرت محمد ظاهر خان د تره زوی دئ. په ۱۲۸۷ هجري لمريز کال کې په کابل کې زېږېدلئ دئ. لومړی يې خپلې زده کړې د حبيبيې په لېسه کې کړې دي او بيا د لوړو زده کړو د پاره فرانسې ته تللئ دئ.

د نادر خان په وخت کې د يو څه مودې د پاره د خارجه چارو د وزير په توګه موظف سو. په ۱۳۱٤ هـ ل کال کې د کندهار د والي او عسکري قواوو د مشر په توګه و ټاکل سو. په ۱۳۲٦ هـ ل کال کې د حربيې د وزير په توګه او بيا په ۱۳۳۲ هـ ل کال کې د صدراعظم په توګه و ټاکل سو. په ۱۳٤۱ کال کې يې د صدراعظمۍ څخه استعفی وکړه.

د ۱۳۵۲ هـ ل کال د سرطان پر ۲٦ نېټه يې د يوې کودتا په نتيجه کې لومړی جمهوريت اعلان کړ. داود خان چې د انقلاب د رهبر په نامه يادېده د خپلې جمهوري دورې د دولت د ريس، صدراعظم، خارجه چارو د وزير، د ملي دفاع د وزير په توګه يې کار کاوه.

په لومړي سر کې يې د پرچم د ګوند يو شمېر غړو ته په خپل حکومت کې ځای ورکړ. پدغه وخت کې محمد هاشم ميوندوال چې د مساوات د ګوند مشر او پخوانی صدر اعظم وو بندي کړه سو او د هغه ځای څخه يې مړی د ځان وژني په نامه منځ ته را و ايستئ.

د ده په دغه دوره کي لومړی ۷ کلن پلان جوړ او تر کار لاندي و نیول سو. د مځکو د اصلاحاتو قانون منځ ته راغی او د هغه په نتیجه کي یوې کورنۍ ته تر ۲۰۰ جریبه پوري د کرهڼي مځکه ور پرېښودل کېده او نوره یې د هیواد بې مځکو او خوارانو بزګرو ته ور کول کېده. ددې کار په سر ته رسېدو دی بریالی نه سو. داود خان د مترقي مالیات سستم منځ ته راووست، هغه دا وو چي په هره اندازه به عایدات او ګټه ډېرېده په هغه اندازه به یې مالیات پورته تله. د یوه نوي اساسي قانون د پاره یو کمیسون جوړ سو.


د داود خان په وخت کي د پخوا په شان د هیواد په عسکري چارو کي د ګاونډي هیواد شوروي اتحاد مشاورینو کار کاوه. دا ځکه چي افغانستان د ډېر وخت راهیسي د دوو لویو قوتونو تر منځ پروت وو لکه: شوروي اتحاد او لوېدیز هیوادونه (امریکا). او شوروي‌یانو نه غوښتل چي د لوېدیزو هیوادونو د جملې څخه کوم هیواد پدې منطقه کي فعالیت و لري او د بلي خوا یې دغه مشاورین په ډېر لږ مصرف دلته په کار بوخت وه.

داود خان څه موده وروسته یو ګوند د ملي غورځنګ په نامه منځ ته راوړ او یو ګونده سیاست یې اعلان کړ چي بېله دغه ګوند څخه بل کوم ګوند منځ ته نه سوای راتللای. د دې معنی دا وه چي ډیموکراسي نه وه.

د ده د جمهوریت په دوره کي یو شمېر سیاسي نا ارامۍ منځ ته راغلې چي د هغو په نتیجه کي داود خان نور محمد ترکي، حفیظ الله امین، ببرک کارمل او د خلق د ګوند یو شمېر نو سیاسي کسان بندیان کړه چي په نتیجه کي یې د هغو د ملګرو د خوا یوه کودتا پیل سوه. په نتیجه کي یې داود خان د خپلي کورنۍ د غړو سره په ۱۳۵۷ هـ ل کال کي د ثور پر ۷ نېټه و وژل سو او د خلق دیموکراتیک حکومت منځ ته راغئ چي نور محمد ترکی یې مشر وو.

# نور محمد ترکی

(۱۳۵۷ـ۱۳۵۸) هـ ل (۱۹۷۸ـ۱۹۷۹)م


نور محمد ترکی

نور محمد ترکی د ۱۹۱۳م کال د جولای پر ۱۵ نېټه زېږېدلئ دئ. دی د ویښو زلمیانو د ډلي غړی وو.

دی د ډېره وخته څخه د انقلابي فکر څښتن وو. د هغه وخت د حکومت په پټه یې د خلق د دیموکراتیک گوند (حزب) اساس ایښی وو، گوند ته یې غړي را بلل او گوندي غونډي یې کولې.

کله چي په ۱۳۴۳ هـ ل کال د اعلیحضرت محمد ظاهر په وخت کي د لومړي ځل د پاره دیمو کراسي اعلان سوه او سیاسي گوندونو په ازادي سره و کولای سوه چي فعالیت و کړي نو د ۱۳۴۳ هـ ل کال د جدي پر ۱۱ نېټه د خلق دیموکراتیک گوند د نور محمد ترکي په مشري په رسمي توگه په فعالیت پیل و کړ. د ۱۳۴۵ کال د حمل پر ۲۲ نېټه د خلق اخبار په چاپ پیل و کړ. د دغه گوند دوه نور لوړ غړي حفیظ الله امین او ببرک کارمل وه.

تر څه فعالیت وروسته د گوند د مشرانو تر منځ مخالفت پیدا سو. ببرک کارمل د خلق د دیمو کراتیک گوند څخه جلا سو او د پرچم په نوم یې یوبل گوند چي مرام یې هغه د خلق د دیموکراتیک گوند مرام وو، پیل کړ نېټه (۱۴ د ثور ۱۳۴۶). دا دواړه گوندونه د هغه وخت شوروي اتحاد ته وفاداره وه او د هغو له خوا مرسته ورسره کېده .

د سردار محمد داود د جمهوریت په وخت کي د سیاسي گوندونو فعالیتونه منع سوه او څه موده وروسته یې خپل گوند د ملي غورځنگ په نامه اعلان کړ.

تر دې وروسته په پټه د خلق او پرچم گوندونه بیا سره یو ځای سوه ،کال ۱۳۵۶ د سرطان ۱۲ او بیا یې په فعالیت پیل و کړ. داود خان چي دغه کار نه سو قبلولای نو یې نورمحمد ترکی، ببرک کارمل، حفیظ الله امین او د خلق او پرچم د گوندونو یو

شمېر نور غړي بنديان کړه . هغه وو چي د ۱۳۵۷ هـ ل کال د ثور پر ۷ نېټه د اسلم وطنجار ( چي يو عسکري سړی وو ) له خوا يوه کودتا پيل سوه او داود خان يې په خپل کور کي محاصره کړ . داود خان لا محاصره وو چي نور محمد ترکی او ملګري يې د بند څخه را خلاص سول او حفيظ الله امين د کابل راډيو له لاري د انقلابي شورا بيانيه پيل کړه ، داود خان او د ده د کورنۍ غړي يې له منځه يووړه ، نور محمد ترکی د افغانستان د انقلابي شورا د ريس په توګه و ټاکل سو چي له دې ځايه څخه هيواد ته د بد بختۍ دروازه خلاصه سوه .

نور محمد ترکي د هغه وخت د شوروي اتحاد په مرسته په ډېرو ژر تغيراتو لاس پوري کړ . ډېر ژر يې د هيواد پخوانی بيرغ له منځه يووړ او پر ځای يې د خلق سور بيرغ منځ ته راووړ چي دا کار د افغانستان د خلکو د ډېري نا راضۍ سبب و ګرځېد .



ډېر ژر د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ د حکومت د چوکيو پر سر مخالفت پيل سو . د دې کار په نتيجه کي ببرک کارمل پراګ ( چکوسلواکيا ) ته د سفير په توګه و لېږل سو چي د دغه ځای څخه د خلق او پرچم تر منځ ډېر مخالفت پيل سو . دا مخالفت دومره شديد وو لکه د خلقيانو او مجاهدينو تر منځ چي مخالفت وو .

د نور محمد ترکي په مخ کي د حکومت د ناکامۍ سببونه ډېر وه خو يو څو يې په لاندي ډول دي :

۱ ـ د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ بيا مخالفت

۲ ـ په هيوواد کي د خانانو ، ملايانو ، د نورو ګوندونو د غړو او نورو خلکو بندي کول، وژل او د شوروي اتحاد پلوي کول

۳ ـ د ده په نظر د ډېر ژر اصلاحي فرمانونه يو په بل پسې را ايستل

٤ ـ د خلق د ګوند د غړو پر خپل سر کارونه کول

٥ ـ د سرمايه دارو هيوادونو له خوا د خلکو لمسول د دوی په مخالفت ، دا ځکه چي هغوی د شوروي اتحاد د مختنه راتلو په سبب په ببره کي وه

٦ ـ د ترکي او امين تر منځ مخالفت ، د ترکي او حفيظ الله امين تر منځ مخالفت تر دې اندازې پوري و رسېد چي د يو او بل د وژلو تصميم يې سره و نيو تر څو حفيظ الله امين بريالی سو چي ترکی د منځه يوسي او په خپله د انقلابي شورا ريس سي .

پدې کار د خلق په ګوند کې په ښکاره مخالفتونه منځ ته راغله. یوه ډله د امین پلویان سوه او بله ډله د ترکي پلویان سوه. که څه هم د دې مخالفت نتیجه به هغه وخت ښکاره سوې وای که امین د ډېر وخت د پاره د قدرت پر سر پاته سوئ وای.

## دعـــا

خدایه دا توري تیارې پـــر موږ رڼا کړه
دغه توره شپه یـــو ځـل پر موږ سبا کړه
پر اسمان مو تـــوري لړې چې خورې دي
خدایه تـــه لـــه دغو وریځو امان راکړه
دا خواره واره چې بیا سره یو ځای سي
په هیواد کښې مو پیـدا هسې فضـا کړه
مرګ او ژوبلې مو وطـن پر سر اخیستئ
سوله ییز ژوند مو وطـن کې را پیدا کړه
چـــې کـــورونه ورانـــوي انسانان وژني
دا دښـــمن د بـــشریت تـــه پوپنا کړه
چې د نورو په نیستي کې هستي غواړي
دا پـــر ځان باندې مین خدایه رسوا کړه
د خپل پـــاک حبیب سپېڅلي مخ ته ګوره
له مرګ ژوبلې ځیني خلاصه مو دنیا کړه
د غـــروال پر وطن سرې سکروټې اوري
لـــــه دې اوره په امان دښتې بېدیا کړه

# غوره دعا

يووه شپه مي په يوه كوټه كي د يوه نا اشنا مسافر سره شپه سوه. شپه چي پخه سوه خپلو چرتونو د خوبه را وينښ كړم، څه اواز مي تر غوږ سو، چي غوږ مي و نيوئ، د كوټې د ګوټ نه مي د نا اشنا مسافر له خولې دا دعا تر غوږ سوه:

"خدايه قوت راكې چي:
چېرته تياره وي، هلته رڼا راولم.
چېرته ظلم وي، هلته عدل او انصاف راولم.
چېرته غم وي، هلته ښادي او خوښي راولم،
چېرته نا اميدي وي، هلته اميد پيدا كړم.
چېرته نفاق وي، هلته اتفاق راولم.
چېرته كركه او كينه وي، هلته مينه او محبت راولم.
ما ته د هغه چا سره د مرستي قوت او توان راكړې چي ملا تړ او مرستيال نه لري".

# ښې مشورې

يو سړی په سفر روانېده ، يوه هوښيار سړي ته د مشورې د پاره ورغئ چي د چا سره ملګرتيا وکړم او د چا څخه ځان وساتم ؟
هوښيار سړي ورته وويل :"
د اتو کسانو څخه ځان ساته ! "

١ـ چي احسان دي نه مني .
٢ـ چي بې ځايه قهر ورځي .
٣ـ چي اخرت ته بې پروا وي .
٤ـ چي ټګ او غولوونکئ وي .
٥ـ چي حوسي او حرصناک وي .
٦ ـ چي دروغجن وي .
٧ـ چي بې حيا وي .
٨ـ چي بد ګومانه وي .

او د دغسي اتو کسانو په لټه کي اوسه :

١ـ چي نيکي او ښه دي مني .
٢ـ چي په سختي کي دي د اشنايي څخه لاس نه اخلي .
٣ـ چي وينا او کړه يې دواړه ښه وي .
٤ـ چي بې کبره وي .
٥ـ چي عقل يې تر قهر ډېر وي .
٦ـ چي بې تمې وي .
٧ـ چي با ادبه وي .
٨ـ چي د ښکانو ملګرئ وي .

# ښه مېرمن

يوه سړي يو سپين ږيری او بوډا سړی په شا ډاکتر ته د معالجې د پاره راوړ. ډاکتر د روغ سړي څخه پوښتنه وکړه چي: " دا پلار دي د څو کالو دئ ؟"

روغ سړي ورته وويل: " دا مي پلار نه دئ دا مي زوی دئ." ډاکتر په ډېر تعجب و پوښته چي: " ته ولي داسي ځوان يې او زوی دي داسي سپين ږيری او بوډا دئ؟"

روغ سړي جواب ور کړ: "دا ځکه چي زه په کور کښي يوه نېک کرداره، په ژبه پوه، کاريګره او ډېره خوشاله مېرمن لرم، کله چي د کور څخه د باندي يم نو په ډېر ډاډه او قوي زړه کار کوم او کله چي په کور کي يم، د دې په خندا ټوله ستړيا او غمونه را څخه ليري کيږي. خو د زوی مي داسي ښځه ده چي هر کله سره وويني د دواړو روحي رنځ زيات شي، ځکه چي تر منځ يې روحي توافق نه سته او بل دا چي ښځه يې ډېره عصبي، بېکاره او ناپوهه ده، نو هم دا سبب دئ چي زما زوی دې حال ته رسېدلئ دئ."